# رسول الله صلى الله عليه وسلم راته تشهد داسې رازده کړ لکه څرنګه به يې چې له قرآن څخه يو سورت رازده کاوه، دا پداسې حال کې چې زما لاس د هغه په لاسونو کې و

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم راته تشهد داسې رازده کړ لکه څرنګه به يې چې له قرآن څخه يو سورت رازده کاوه، دا پداسې حال کې چې زما لاس د هغه په لاسونو کې و: «التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ» ټولې ستاينې ژبنې، بدنې، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا ای پيغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نيکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالى پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلي الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی». او د دوارو په يو بل لفظ کې راغلي: «إِنَّ اللهَ هُوَ السَّلَامُ، فَإِذَا قَعَدَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَقُلْ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، فَإِذَا قَالَهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلَّهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنَ الْمَسْأَلَةِ مَا شَاءَ». «يقينا الله سلام دی، نو کله چې ستاسو څخه يو څوک په لمانځه کې کښاست نو ودې وايي: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ...ثنا، ستاينې او پاکې الله لره دي، اې نبي ! پرتا دې سلام، د الله رحمت او برکتونه دې وي، پر مونږ او دالله پر نيکو بندګانو دې سلام وي. کله يې چې دا دعا وويله هر نېک بنده ته به په اسمان او ځمکه کې ورسيږي. (بيا به ووايي) ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته او پدې ګواهي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی. د دې پسې بيا کولى شي هر ډول سوال او دعا چې وغواړي غوره يې کړي

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ابن مسعود رضي الله عنه ته هغه تشهد ور زده کړ چې په لمانځه کې وېيل کېږي، پداسې حال کې چې د ابن مسعود لاس يې په دوارو لاسونو نيولى و، تر څو د ابن مسعود پام ځانته را واړوي، تشهد يې داسې ور زده کړ لکه څرنګه يې چې د قرآن يو سورت ور زده کاوه. دا کار د دې تشهد الفاظو او معنا ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم پاملرنه ښيي. نو ويې فرمايل: "التَّحِيَّات لله": دا هره هغه وينا او عمل دی چې پر تعظيم دلالت کوي، چې د ټولو حقدار الله جل جلاله دی. "الصَّلَوَاتُ": دا هغه پېژندل شوی لمونځ دی چې د الله تعالى لپاره يې فرض او نفل کيږي. "الطَّيِّبَاتُ": دا هغه ښې ويناوې، عملونه او پاکيزه صفتونه دي چې د کمال څرګندونه کوي او د ټولو حقدار الله جل جلاله دی. "السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته" هغه ته له هر مصيبت او ضرر څخه د خوندي پاتې کېدلو او د هر ډول خير او ښېګڼې د زياتوالي دعا ده. "السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين": د لمونځ کوونکي او په اسمان او ځمکه کې د هر صالح بنده لپاره د خوندیتوب دعا ده. "أشهد أن لا إله إلا الله": يعنې زه په ټينګه اقرار کوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته. "وأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ ورسولُهُ": او زه پدې اقرار کوم چې هغه د الله بنده دی او رسالت يې تر ټولو وروستى او د پيغمبرې لړې لره پای ته رسوونکى دی. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم لمونځ کوونکى وهڅاوه چې هر ډول دعا وغواړي نو غوره دې کړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3096